دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوه، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکې او ښه لیدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت شپږم کال، ۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۷ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د وری ۱۹ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الثانی ۷ مه د ۲۰۱۴ م د اپریل ۸ مه

ولسي جرګه:

اوراق رایدهی در مراکز و محلات قبل از وقت تمام شد

کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان نتوانسته تخمین دقیق از مراکز و تعداد رای دهنده گان در محلات رای دهی داشته باشد

کابل، رسانه ها:
برخی از اعضای ولسی جرگی افغانستان از کمبود اوراق رای دهی و تمام شدن این اوراق قبل از وقت در روز انتخابات شکایت کرده اند.
تعدادی از اعضای ولسی جرگی افغانستان می گویند، هزاران تن به دلیل کمبود و نبود اوراق رای دهی در روز انتخابات نتوانستند رای دهند.
آنان در نشست عمومی روز دوشنبه این جرگه گفتند، در روز انتخابات شماری زیادی از مردم برای دریافت اوراق رای دهی انتظار کشیدند.
به گفته این وکلا تعدادی از آنان به همین دلیل مراکز رای دهی را بدون آن که رای داده باشند، ترک گفتند.
به باور این اعضای ولسی جرگه کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان نتوانسته تخمین دقیق از مراکز و تعداد رای دهنده گان در محلات رای دهی داشته باشد.
به گفته آنان این کمیسیون در اتخاذ تدابیر لازم برای رای دهی کوتاه آمده است.
آنان خواهان ارائه وضاحت کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان در این خصوص شدند.
پس از شنیدن این انتقاد ها از سوی وکلا، هیات اداری این جرگه گفت که آنان تصمیم خواهند گرفت... (ص، ۴)

د ولسمشري نوماندانو مرستیالان

په ټاکنیزه پروسه کې تقلب کوونکي دې عدلي او قضایي ارګانونو ته وروپېژندل شي

کابل، پژواک:
د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ولسمشري نوماندانو ته د ټاکنیزو شکایتونو د څېړنې ډاډ ورکړ، خو ګواښ یې وکړ چې هیڅ نوماند ته به اجازه ورنه کړي چې په تقلب سره بریالی شي.
د شکایتونو کمیسیون د دوشنبې په ورځ په کابل کې د ولسمشرۍ د نوماندانو له مرستیالانو سره ناسته درلوده او مرستیالو نوماندانو خپل شکایتونه له کمیسیون سره شریک کړل.
د رای پاڼو کمښت، تر ټاکنو وړاندې او وروسته د رایو د صندوقونو ورکېدل، د ټاکنو خپلواک کمیسیون... (۴ مخ)

بانکي مون افغانانو ته مبارکي ورکړه

کابل، رسنۍ:
د ملګرو ملتونو عمومي منشي بانکي مون، د شنبې په ورځ د ترسره شویو ټاکنو په اړه افغانانو ته مبارکي وویله او دغه ټاکنې یې په افغانستان کې په لومړي ځل د دیموکراتیک واک د لېږد پر لور یو تاریخي او مهم ګام وباله.
افغانانو د شنبې په ورځ د طالبانو پر ګواښونو سربېره په پراخه کچه په ټاکنو کې ګډون وکړ خو د اوسني افغان ولسمشر حامد کرزي، ځای ناستي وټاکي، دا به ... (۴ مخ)

عثمانی

قرارداد امنیتی به وقت معین آن امضا خواهد شد

کابل، رسانه ها:
وزیر خارجه افغانستان می گوید، امضای قرارداد امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن اهمیت خاصی برای مردم افغانستان دارد و این توافقنامه با احترام به فیصله های لویه جرگه در زمان معین آن امضا خواهد شد.
ضرار احمد عثمانی وزیر خارجه افغانستان به روز دوشنبه در یک نشست خبری در کابل به خبرنگاران گفت که به احتمال زیاد این قرارداد قبل از انتقال قدرت سیاسی به رییس جمهور جدید... (ص، ۴)

کشته شدن ۱۵ نفر در نتیجه انفجار ماین کنار سرک در ولسوالی میوند قندهار

قندهار:-
گزارش ها حاکی از آن است که در نتیجه انفجار ماین کنار جاده در ولسوالی میوند دست کم پانزده غیر نظامی کشته شدند.
این حادثه حوالی ساعت پنج عصر امروز در مربوطات ولسوالی میوند ولایت قندهار رخ داده است.
دواخان مینه پال، سخنگوی والی قندهار با تایید این حادثه می گوید:... (ص، ۴)

افول آخرین ستارهٔ درخشان خانوادهٔ مبارز قطب

استاد محمد قطب بعد از یک عمر مبارزه و خدمت به اسلام چشم از جهان بست. «انا لله و انا الیه راجعون»

فدامحمد فایض

«مفکر بزرگ استاد محمد قطب بعد از شهادت برادر و بعد از فشارهای بسیار که متوجه خانوادهٔ مبارز او شد، مجبور شد خاک مصر را به قصد حجاز مقدس ترک بگوید. او از ده ها سال به این طرف در عربستان سعودی بحیث یک مربی و آموزگار زندگی مهاجرانهٔ خود را بسر برد. او در دوران جهاد مقدس ملت افغانستان در برابر روسهای وحشی به پشاور که قیادت این جهاد در آنجا بسر میبرد سفر کرد و مشوره های خوبی به رهبران جهاد داد؛ ولی افسوس که این مشورتها ناشنیده ماند و ما تا اکنون هم بهای دست کم گرفتن این مشورتها را می پردازیم» (ص، ۳)

نی:

د انتخاباتو په ورځ رسنیو خپل مسؤولیت ښه ترسره کړ

«د انتخاباتو څخه مخکې او د انتخاباتو په ورځ د یو شمېر خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالی شوی؛ هم په کابل کې او هم په نورو ولایتونو کې خو په دې اړه د کورنیو چارو له وزارت او امنیتي ادارو سره تماسونه درلودل شوي؛ خو دغه پېښې وڅېړي او هغه کس چې تاوتریخوالی کړي باید مجازات شي»

نی حمایت کننده رسانه های آزاد افغانستان
Nai Supporting Afghanistan Open Media

کابل، رسنۍ:
نی یا په افغانستان کې له آزادو رسنیو څخه د ملاتړ اداره له رسنیو مننه او ستاینه وکړه چې، د شنبې د انتخاباتو په ورځ دوی په پراخ ډول ورځي انتخابات یې په ښې ساري ډول تر پوښښ لاندې راوستل.
د دې ادارې اجرایوي مشر صدیق الله توحیدي د دوشنبې په ورځ په کابل کې یوه خبري کنفرانس ته وویل چې؛ رسنیو خپل مسوولیت په ښه توګه ادا کړ:
"د دې خبرې ناستې هدف دا دی، چې مونږ دې ټولو رسنیو او خبریالانو څخه مننه کوو چې؛ ونډه واخیسته او د سهار د اوو بجو د انتخاباتي مرکزونو له پرانیستې څخه ترپایه یې راپورونه ورکول او دا یوه مهم ونډه وه چې، ترسره یې کړه."
خو ښاغلي توحیدي وویل، چې د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو د انتخاباتو په وخت له یو شمېر هغو خبریالانو سره تاوتریخوالی هم شوی دی؛ چې غوښتل یې د درغلیو د صحنو عکسونه واخلي. ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ملت په بریالیتوب سره خپل امتحان ورکړ؛ اوس وار د انتخاباتو او شکایاتو د کمیسیونونو دی

د روان کال ۱۳۹۳ د حمل د شپاړسمې انتخابات په داسې حال کې بریالي ترسره شول، چې د افغانستان مخالفو خواکونو د انتخاباتو په درشل کې دا هڅه وکړه چې زموږ د هېواد امنیتي فضا داسې خړه پړه کړي چې خلک وویروي چې په انتخاباتو کې ګډون ونه کړي؛ خو لله الحمد چې د افغانستان د دښمنانو ټولې ځلې او توطیه ناکامه شوه، په دې لار کې زموږ د امنیتي ځواکونو هوښیارتیا او بیداري ډېره د ستاینې وړ ده زموږ د امنیتي ځواکونو کوم کسان چې په دې لار کې شهیدان شول بې له شکه هغه د ملت شهیدان دي، ځکه هغوی پر داسې یوه وخت قرباني ورکړه چې د راتلونکو پنځو کالو له پاره د ملت برخلیک ټاکل کېده او دوهم زموږ د ملت سیاسي هوښیارتیا او جرأت هم د ستاینې دی؛ ځکه خلک له تهدیدونو ونه ویرېدل، ان چې د انتخاباتو په ورځ د امنیت د ګواښلو هڅې وشوې؛ خو زموږ په هغو ولسوالیو کې هم انتخابات وشول چې چاپې تصور هم نه شوای کولای، موږ د خپلو ملي امنیتي ځواکونو پیاوړتیا او بیداري او دغسې د ملت جرأت په نیک فال نیسو. دغه پیاوړتیا، هوښیارتیا او جرأت دا زیری هم له ځانه سره لري چې په راتلونکې کې به د سولې په تأمین کې هم مهم نقش ولرلای شي.

په هر حال زموږ ملي امنیتي ځواکونو هم خپل امتحان ورکړ او زموږ ملت هم او له دې امتحانه بریالي راووتل، موږ دغه کامیاب حرکت ستایو او قدرداني یې کوو؛ خو تراوسه پورې لا دا اندېښنه پرځای پاتې ده، چې د انتخاباتو کمیسیون او په ځانګړې توګه د شکایاتو کمیسیون به هغه مستند شکایتونه چې د مختلفو انتخاباتي ټیمونو له خوا دغه کمیسیون ته سپارل شوي څه ډول جاجوي، تراوسه پورې د درغلیو او په ځینو سیمو کې د یوه مشخص کاندید په ګټه د اقداماتو راپورونه ترلاسه شوي دي او ان چې د محلي چارواکو د لاس لرنې راپورونه هم ترلاسه شوي؛ خو دا اوس د شکایاتو په کمیسیون پورې اړه لري چې له دغې پدیدې سره څه ډول چلند کوي، زموږ امنیتي ځواکونه خو په خپل امتحان کې سرلوړي او بریالي راووتل، ملت هم له دې ازمېښته بریالی او سرلوړی راووت چې په مجموع کې د انتخاباتو پروسه هم د امنیتي ځواکونو د قربانیو او ملت د جرأت له لامله وستایل شوه؛ خو د انتخاباتو او شکایاتو د کمیسیون د ازمېښت نتایج لاپوره نه دي څرګند سره له دې چې موږ د انتخاباتو د کمیسیون کار و نیار هم نالیدلی نه ګڼو او ستایو یې؛ خو پوره قضاوت په پرې هغه مهال کوو چې د انتخاباتو د کمیسیون کار و زیار هم د انتخاباتي ټیمونو او هم د ملت د قناعت وړ وګرځي.

البته انتخاباتي سیالي د ټولو نوماندانو حق و؛ خو موږ پر دې هم خوشحاله یو چې دغه سیالي په ښه وجه ترسره شوې، که څه هم د اصلاحاتو او همپالنې د کمپاین د ټیم څو کسان په دې لار کې شهیدان شول چې دهغوی دغه قرباني د ستاینې وړ ده او هغه چا چې دغه بې ګناه وینې توی کړې هم یې خپل اخروي بار درووند کړ او هم یې په دنیا کې د خپلې کمزورۍ او نه وړتیا ثبوت وړاندې کړ؛ خو نور د انتخاباتو بهیر ښه ترسره شو، اوس د ټول ملت سترګې د انتخاباتو کمیسیون ته وراوښتې دي. د اصلاحاتو او همپالنې ټیم چې د درغلیو په اړه کوم شکایتونه ترلاسه کړي وو، لومړی یې په خپل انتخاباتي مرکز کې ورته د حقوقپوهانو یوه کمیته وټاکله چې فقط هغه موارد چې ښکاره ثبوتونه یې ورسره دي او د ارزونې وړتیا ولري د شکایاتو کمیسیون ته وړاندې کړي چې یادې کمیټې دغه کار په پوره دقت سره سر ته ورساوه او اسناد یې د شکایاتو کمیسیون ته وسپارل، اوس وګورو چې د شکایاتو کمیسیون څه کوي، څه ډول خپله قانوني دنده سر ته رسوي، څه ډول عدالت تأمینوي او څه ډول د انتخاباتي ټیمونو قناعت تأمینوي؟ موږ پر دې باور یو چې که سهي قضاوت وکړای شي، عدالت تأمین کړای شي، حق حقدار ته وسپارل شي او تقلب کوونکي او تخلف کوونکي د قانون منګولو ته وسپارل شي د اعتراض هېڅ ځای به پاتې نه شي او په راتلونکي کې به موږ د یوه منتخب او مشروع دولت څاوندان یو.

استراتیژی وحدت کتله های جهادی تا نابودی آنها

با تأسف باید بگوییم که پس از شکست جهانی اتحاد جماهیر شوروی به رهبری روسیه مجاهدین افغانستان نتوانستند وحدت تشکیلات سیاسی خود را طوری حفظ کنند که با تشکیل یک حکومت نیرومند مرکزی ظرفیت های نظامی و سیاسی خود را به جهانیان منعکس نمایند. علت آن کلا و در مجموع به خاطری واضح بود که در گرما گرمی جهاد ملت قهرمان ما علیه استعمار سرخ شوروی، کشورهای منطقه و جهان به شمول شبکه های خطرناک جاسوسی همواره تلاش داشتند که وحدت صف میان رهبری مجاهدین تأمین نشود که این هدف شوم بدون درد سر و دادن امتیازات به احزاب و رجالی که اساساً در جهاد افغانستان نقش نداشتند و هم چنان تقویه رقابت های ناروا بین واحدهای جهادی مطرح، عملی شد و از آنجا تا فروپاشی حکومت دست نشانده نجیب و ورود فاتحانه مجاهدین به کابل پایتخت کشور و افروختن جنگ های خانمانسوز تنظیمی که دامن زدن به تعصب های جاهلی را نیز با خود همراه داشت ادامه یافت و تطبیق این استراتیژی رهبری و صفوف مجاهدین مطرح در جهاد را چنان از پا درآورد که فقط با یک یورش چند ساعهٔ طالبان چنان از هم پاشیدند که بجز از نام ماهیتی از آنها برجا نماند که الگویی برای نسل های آینده شود، درین میان جنایات بزرگ قتل های دست جمعی، غصب ملکیت های مردم، تاراج معادن و جنگل های کشور تجاوز بر حریم ناموس دیگران، دامن زدن به تعصب های قومی و منطقوی و زبانی تا حدی که تنها از شمال کشور چهارهزار خانوادهٔ یک قوم از خانه های خود بی جا شدند، جایدادهای آنان غصب گردید و حتی داغهای بسیار کریه بر دامان ناموسداری آنها گذاشته شد...

این استراتیژی آن قدر ژرف و نیرومند بود که تا بعد از آمدن قوای حافظ صلح ملل متحد به کشور نیز هم چنان پا برجا بود و در انتخاباتهای ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی نیز راه یافت..

به یقین باید گفت که مشاهدهٔ این وضع هر صاحب ضمیر و وجدان را به ویژه کسانی را که در جهاد افغانستان قربانی داده و متحمل محرومیت هایی شده اند که تا امروز دامنگیر آن هاست، رنج می دهد و از خود سوال می کنند: چه بودیم و چه شدیم؟ چه می خواستیم و چه بر سر ما آمد؟ گفته شاعری بجاست که می گوید:

امروز که اسلام چنین زار و ضعیف است
زین قوم شریف است
نی جبر ز عیساست، نه تعدی ز کلیساست
از ماست که بر ماست

در ایام مبارزات انتخاباتی نامزدان ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی ۱۳۹۳ یکی از نامزدان جهادی ریاست جمهوری را در میان حامیانش دیدم که یکی از طرحهای خود را چنین بازگو کرد که اگر به قدرت برسد مجاهدین را بر امور کشوری می گمارد. نخست بغض گلویم را گرفت که کدام مجاهدین؟ و سپس یک خنده تلخ رگ رگ وجودم را به لرزه درآورد.. به خدا پناه می جویم این بزرگانی با این بزرگی قد و قامت علمی، سابقهٔ جهادی و مقام عالی روحانی چرا مردم خود بخصوص مجاهدین افغانستان را آن قدر کور و کر و جاهل می پندارند که دیده و دانسته در یک روند انتخابات «مجاهدین» به چند دسته تقسیم می شوند و هر دسته نامزد دلخواه خود را به میدان رقابت های انتخابات ریاست جمهوری می فرستد و حتی یکی علیه دیگر شایعه پراگنی و تبلیغ هم می کنند.

یکی از نامزدان سیکولر انتخابات ریاست جمهوری که سابقه پرچمی دارد و بیش از ۳۸ حزب سیکولر، التقاطی و ... از وی اعلام پشتیبانی کردند و تبلیغات شخصیت تقلبی وی فضای افغانستان را پر کرد و هنوز طنین های دلخراش آن به گوش می رسد در یکی از اظهاراتش به قلقله گفت که اگر به قدرت برسد، حضور مجاهدین در افغانستان را به ۳۰ در صد کاهش می دهد... در برابر این اظهارات وی نیز نخست بغض گلویم را فشرد، سپس باز هم موجی از یک خنده تلخ قلب مجروحم را لرزاند که یا خدا! در حالی که اساساً درین کشور مجاهد و نقش آن مطرح نیست، این قصاب مخفی و گژدم زیر بوریا باز کدام نقشه را به سر می پروراند؟ مثلی که درین بار نوبت نسل کشی دوم کسانی فرا می رسد که علیه روس و مزدوران وی رزمیده اند و این بار وارثان ما را از حق زندگی در جامعه افغانستان محروم می کنند... از دیدگاه مقصر من انتقال قدرت به مجاهدین...

نعمتی بود که خدا به آنها ارزانی داشت. وراثت سرزمین افغانستان را به آنها سپرد. از ملازم دفتر تا رئیس جمهور همه مجاهد بودند. اما نتوانستند این امتیاز را حفاظت کنند.. مفهوم شعارهای خود «واعتصموا بحبل الله جمیعاً» را در سیاست پیاده کنند و امروز به مرحله یی رسیده اند که الله جل جلاله، این گونه وضعیت ها را در قرآن مبین خود وانمود کرده است: اگر به دین خدا وقعی نگذارید، خدا شما را هلاک خواهد کرد و بجای شما قومی را بر خواهد انگیخت که آنها خدا و خدا آنها را دوست می دارد.. برخی از مجاهدین خود در پای خود تیشه زدند و بجای شکران خدا کفران نمودند و در ۱۳ سال گذشته در حضور قوای حافظ صلح بین المللی در افغانستان بجای رشد قوس نزولی انحطاط را پیمودند.

درین دوران دیدیم که بخشی از کتله های مجاهدینی که در حکومت سهم داشتند، آنهایی را که در حکومت سهم نداشتند با بی رحمی دیدند و حتی کادرهای نخبهٔ آنان را ترور نمودند و از کویی خود نیز در تیررسی استخبارات منطقه و جهان قرار گرفتند، و نخبگان مطرح آنها ترور شدند و سرانجام سخن به جایی رسید که پنجه خونین استخبارات منطقه به گلوی نخبه ترین های دوران جهاد هم رسید و اکنون آنها را در میان خود نمی بینیم، من معتقدم که اگر به این چند دسته‌گی ها و عنصر شوم هر گونه تعصب از بازمانده گان جهاد منتفی نشود، استراتیژی ریشه کن مجاهدین که دشمنان سوگند خورده اسلام وضع نموده اند، بالاخره بر نقطه یی توقف خواهد کرد که دیگر نام و نشان و حرفی از جهاد و حکومت اسلامی در میان نباشد و کشور ما با تمام دار و مدارش بالقوه و بالفعل در دامان استکبار جهانی سقوط کند..

در پایان سخن به یکی از سخنرانی های دوران جهاد نخبه گان جهاد افغانستان اشاره یی دارم، من در همان جمعی که وی به آن سخنرانی می کرد نشسته بودم که وی قوماندانان ارشد جهاد را مخاطب نمود و گفت: متوجه هستید که دشمن در گرما گرمی نبرد تلاش می کند، نقاط حاکم طرف مقابل خود را بکوبد، در سنگری که دهشکه و یا زیگایک است و یا ماشیندار ۴ میله پف شده است بمب افگن های دشمن نخست همان سنگرها را می کوبد.. شما هم نقاط حاکم جهاد استید، اگر با زدو بندهای دشمن تسلیم شوید، نخستین حمله وی بر شما خواهد بود و شما را یکا یک از بین خواهد برد؛ چنان شد؛ امروز ببینید که از همان نام آوران جهاد کسی را می بینید همه در دایره نشان دشمن آمدند و با فشردن ماشه نابود شدند، میدان شغالی شد... حالا که این دوستان ما از جهاد و مجاهد حرف می زنند، و بدبختانه حرف های آنان را می شنوم تا دو روز تب داشته می باشم...

عبیدالله صافي

په ټاکنو کې د ملي یووالي روحیه غښتلې وه

د تېرې شنبې د ورځې په شپاړسمه په هېواد کې ټولټاکنې ترسره شوې؛ خو په دغو ټولټاکنو کې څو مهم کارونه هم مخې ته راغلل چې د هېوادوالو لپاره لوی بري او لاسته راوړنه په ګوته کوي.

لومړی دا چې د افغانستان د وګړو سیاسي شعور ډېر لوړ شوی، اوس حالات ډېر بدل شوي هغوی اوس تر ډېره بریده خپل دا مسؤولیت پېژندلی چې د هېواد د زعامت ټاکلو حق په مطلق ډول همدوی ته حاصل دی، څو کاله وړاندې عام وګړي د الله څرګند حکم: «إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا» پر مفهوم او اهمیت نه پوهېدل او دا اخذ یې نه شوای کولای چې په دې کې د هېواد د زعیم ټاکلو حق په واضحه توګه ملت ته ورکول شوی؛ نو ځکه یې ملت د مطلق العنان بادشاهت په وړاندې خپل سرونه ټیټ نیول او دهغه د ټولو روا او ناروا اوامرو منل یې پر ځان فرض ګڼل، یو پاچا به چې مړ شو؛ نو پرځای به یې دهغه زوی د اقتدار پر ګدۍ تکیه لګاو، نه به د ملت له علماو او پوهانو سره مشوره کېده او نه هم ولس ته د انتخاب زمینه برابرېدله، ډېرو پاچایانو خو به له مخکې دا قانون پاس کړاو چې که دهغه له کورني څخه کوم نارینه پاتې نشي؛ نو لور به یې د پاچاهۍ پر ګدۍ کښېني، اوس هغه حالت په بشپړ ډول بدلون مومندلی او هر افغان منتخب ولسمشر غواړي.

دویم دا چې: د افغانستان په ولسونو کې د ملي یووالي روحیه تر ډېره بریده پیاوړې او د شئنلیزم او قوم پالنې شیطاني عقیده مخ په کمېدو ده، چې ښکاره بېلګې یې د شنبې په ورځ په ټولټاکنو کې تر سترګو شوې.

د افغانستان په هر ولایت کې نوماندانو رأی واخستلې، پښتون د تاجکو، ازبکو، هزاره و، بلوڅو، پشه ییانو او نورستانیانو په ګڼ مېشتو سیمو کې او تاجک د پښتنو ګڼ مېشتو او نورو پرګنیو په سیمو کې رأیې ترلاسه کړې، په ټاکنیزو کمپاینونو کې د افغانستان ټول توکمونه د یو بل ترڅنګ ودرېدل او په ګډه د کمپاین چارې پرمخ یوړې، د ټاکنو په ورځ چې هېوادوالو په کوم اتفاق، سکون، امن او ورورۍ په فضاء کې له څه تاوتریخوالي پرته خپلې رأیې واچولې دا هم ددې خبرې قوي ثبوت دی چې د افغانستان په وګړو او توکمونو کې د یو بل د زغملو او د یو بل د حقوقو د احترام کولو روحیه ډېره غښتلې شوې ده.

درېیم دا چې: د ټاکنو پر مهال د داد وړ امنیت دا ثابته کړه چې زموږ اردو او امنیتي ځواکونه په مسلکي لحاظ ددې وړتیا پیدا کړې چې د هېواد امنیت وساتي او په هره سخته کې د قانون ماتوونکو ارادې شنډې کړي.

څلورم دا چې: د افغانستان ټوله اوس په بشپړ ملي او اسلامي روحیه روزل شوی، ددوی په وړاندې تر ټولو مهم اولویتونه ملي استحکام، ملي یووالی او د وطن پالنې سالمه عقیده ده، همدا لامل دی چې په دې وروستیو کې د قومیت او نژاد پالنې شعارونه تقریباً له پښتو لوېدلي او دېته ډول شوي چې پخپله شعارونو ته د ملي یووالي شعار ورکړي، که څه هم د هېواد او اسلام دښمنان اوس هم نژادي تعصبونو ته د لمن وهلو لپاره بشپړې هلې ځلې کوي؛ خو هغه ورځ لرې نه ده چې د دوی دا شیطاني منډې ترړې هم په اوبو لاهو شي، که چېرته موږ دغو سترو بریاو ته دوام ورکړو.

عوامل ته ځیر شو: نو ځامخا به دا ترلاسه کړو چې په دې کې تر ټولو ستر عامل د افغانانو هغه بصیرت او تجربه ده چې د انقلاب په څو لسیزو کې له هېواد نه باندې او دننه ترلاسه کړې، هم یې دیني پوهه زیاته شوې او هم سیاسي، په اوسني عصر کې چې رسنۍ څومره فعالې شوې او د نړۍ د هر کوټ معلومات په څو شیبو کې نړۍ والو ته رسوي افغانان یې هم له نورو ټبارو نه راوپسته‌لي، اوس افغانان د نورو نړۍ په څېر د پرمختللي عصري سهولتونو په فضا کې ژوند تېرول غواړي، چې ددوی دا ټولې غوښتنې صرف او صرف د دیکتاتوري نظام پرځای د ټاکنو له لارې اقتدار ته رسېدلي ولسواکي نظام ترسره کولای شي، ځکه چې منتخب حکومت ولس ته ځواب ورکوونکی وي؛ مګر دیکتاتوري حکومتونه د خپلې خوښې نظام پرمخ وړي او د ولس په وړاندې د ځواب ورکولو مسؤولیت نه محسوسوي.

الحمدلله موږ افغانان د اسلام د سپېڅلي دین منونکي یو او د اسلام شریعت په غوڅه توګه لارښوونه کړې چې په اسلام کې د ملوکیت او دیکتاتورۍ هیڅ جواز نشته، هغه حکومت جائز دی چې له خلکو سره د بیعت او یا هم د ټولټاکنو له لارې اقتدار ته رسېدلی وي، دا ډول حکومت دیکتاتور نه، بلکې د خپل ولس په مشوره کار کوي؛ نو ځکه په زغرده ویلی شو چې د ولس په آراوو منتخب شوی حکومت اصلاً د خلکو حکومت وي، چې خپلې ټولې ستونزې له حکومت سره د سلا او مشورې له لارې پرمخ وړي او کوم حکومت چې د ولس په مشوره کارونه پرمخ وړي، چې هېواد او ملت ته استحکام وربخښي، او د ژوند په هر ډګر کې یې په تېزۍ سره د پرمختګ په لور ګامونه اخلي؛ نو څنګه موږ افغانانو ته روا ده چې هیچا ته اجازه ورکړو چې په ټاکنو کې تقلب وکړي او زموږ اسلامي او ملي ارزښتونه متزلزل کړي.

فدامحمد فایض

افول آخرین ستارهٔ درخشان خانوادهٔ مبارز قطب

استاد محمد قطب بعد از یک عمر مبارزه و خدمت به اسلام چشم از جهان بست. «انا لله و انا الیه راجعون»

خلافت عثمانی خار چشم دشمنان اسلام بود؛ زیرا یهودیان و صلیبیان هرگز نمیخواستند جهان اسلام از یک مرکزیت بهره‌مند باشد و اکنون هم در همین تلاش اند. یهودیها و صلیبیها دست دست بدست هم دادند و تمام کشورهای استعمارگر جهان در عقب آنها ایستادند و بالاخره خلافت عثمانی را در سال ۱۹۲۴ سقوط دادند که جای خلافت عثمانی را یک نظام سیکولر گرفت. در سال ۱۹۲۸ امام حسن البنا مفکر بزرگ جهان اسلام در مصر اساس نهضت جهانی اخوان المسلمین را گذاشت. این نهضت خیلی سریع رشد کرد و توسعه یافت که امروز تنها در شرق میانه در حدود صد شاخهٔ اخوان المسلمین مصروف مبارزه اند و علاوه از آن به کشورهای دیگر اسلامی هم اثرات آن رسید که افغانستان نیز لله الحمد از آن محروم نماند. گرچه امام شهید حسن البنا در یک توطیهٔ خاینانه که از سوی همین استعمارگران طرح شده بود و حکومت شاه فاروق هم در آن دست داشت به شهادت رسید؛ ولی نهالی را که امام شهید نشانده بود، با گذشت هر روز شاخ و برگ بیشتر پیدا کرد و نهضت اخوان المسلمین واقعاً یک نهضت جهانی گردید. گرچه نهضت های اسلامیی که در کشورهای مختلف اسلامی سر برافراشت در مطابقت با شرایط همان کشورها بود؛ ولی سرچشمهٔ الهام آن نهضت اخوان المسلمین بود.

بعد از حضرت امام حسن البنا (رح) شخصیت های نامدار دیگر نیز در این نهضت عرض اندام کرد مانند امام حسن الهضیبی، استاد عمر تلمسانی، حقوقدان نامدار استاد عبدالقادر عوده و ده ها و صدها شخصیت دیگر؛ ولی خانواده قطب مانند ستاره های خیلی درخشان این نهضت بیش از دیگران درخشیدند. وجود مفسرالقرآن استاد سید قطب و استاد محمد قطب در جسد این نهضت مانند روح ثابت شد، تفسیر فی ظلال القرآن استاد سید قطب عدالت اجتماعی در اسلام، آینده در قلمرو اسلام، چراغی برفراز راه و ده ها عنوان کتاب از جمله آثار ماندگاری هستند که از استاد شهید به یادگار مانده و هر که در راه اسلام قدم به مبارزه گذاشته، حتماً این کتب را ورق زده و مطالعه کرده اند. آثار استاد بزبان های مختلف ترجمه شده است.

به همین ترتیب در کنار استاد سید قطب شهید که بدست فرعون عصر جمال ناصر دکتاتور مصر به شهادت رسید، برادر او استاد محمد قطب هم کمتر از او نه درخشید. بلکه او نیز آثار ماندگاری از خود بجا گذاشت که از آن جمله است جاهلیت قرن بیستم و ده ها عنوان کتاب دیگر.

مبارزهٔ اسلامی برخلاف کفر جهانی و طواغیت آن دیار و زمامداران فرعون صفت آن کشور، کار ساده یی نبود و تا همین اکنون نیست. کاروان شهدای نهضت اخوان المسلمین از همان دوران شاه فاروق گرفته تا جنرال نجیب، جمال ناصر، سادات، حسنی مبارک و اینک عبدالفتاح السیسی توقف نه یافته است و حتی زمانی که اخوان المسلمین در سال ۲۰۱۲ بعد از ۸۴ سال مبارزه در مصر از طریق انتخابات آزاد به قدرت رسید بیش از یک سال نگذاشتند ادامه یابد. اکنون دکتور محمد مرسی رئیس جمهور منتخب در زندان در انتظار یک سرنوشت نامعلوم بسر میبرد، در عزل او تنها جنرالان فرعون صفت مصر سهم نداشتند؛ بلکه حتی یک عده کشورهای با نفوذ اسلامی در منطقه که اخوان المسلمین و اندیشهٔ مبارز آن را برای خود خطر می پندارند درین جنایت دست داشتند و بعد از برانداختن دکتور مرسی ملیاردها دالر با حکومت جنرال سفاک السیسی کمک کردند.

گرچه تمام اعضای نهضت جهانی اخوان المسلمین از همان سال ۱۹۲۸ تا اکنون صعوبتهای بی شماری را تحمل کردند، از بند و زندان گرفته تا شهادت؛ ولی خانوادهٔ قطب در بین صفوف مبارزین این نهضت بیشترین صعوبتها را تحمل کرد و بیشترین قربانیها را با جبین گشاده استقبال نمود. لحظاتی که پولیس ناصر آمدند تا مفسر نامدار عصر استاد سید قطب را با خود ببرند او مریض بود و تب شدید داشت، او را در همان حالت بردند و علاوه از شکنجه های دیگر سگهای خود را بجان او رها کردند. او تمام این وحشتهای دستگاه وحشی ناصر را تحمل کرد و بالاخره ناصر سفاک تصمیم به شهادت او گرفت و آن مفسر نامدار را بشهادت رساند. گرچه استاد سید قطب را شهید کردند؛ ولی بقول حافظ:

هرگز نمیرد آنکه دلش زنده شد بعشق
ثبت است بر جریدهٔ عالم دوام ما

نام سید قطب بر جریدهٔ عالم ثبت شد و بلکه بعد از شهادت بیشتر از زندگی درخشید و معلوم شد که ناصر و پیروان دون صفت او در شهادت او خیلی اشتباه کردند. اخوان المسلمین هر قدر شهید داد و هر قدر سرکوب شد بهمان پیمان قوت یافت و اوج گرفت. اکنون اخوان المسلمین به قوتی مبدل گشت که استیصال آن برای فراعنهٔ عصر ممکن نیست.

مفکر بزرگ استاد محمد قطب بعد از شهادت برادر و بعد از فشارهای بسیار که متوجه خانوادهٔ مبارز او شد، مجبور شد خاک مصر را به قصد حجاز مقدس ترک بگوید. او از ده ها سال به این طرف در عربستان سعودی بحیث یک مربی و آموزگار زندگی مهاجرانهٔ خود را بسر برد. او در دوران جهاد مقدس ملت افغانستان در برابر روسهای وحشی به پشاور که قیادت این جهاد در آنجا بسر میبرد سفر کرد و مشوره های خوبی به رهبران جهاد داد؛ ولی افسوس که این مشورتها ناشنیده ماند و ما تا اکنون هم بهای دست کم گرفتن این مشورتها را می پردازیم: ببینیم که دیگر چه روزهای دشوار در استقبال ما نشسته است. زمانی بود که بزرگترین دکتاتوران عصر از شنیدن نام سید قطب و محمد قطب به هراس می افتادند. استاد محمد قطب تا آخرین لحظات زندگی پرفیضش از طریق قلم به نشر افکار اسلامی خود پرداخت و امت مسلمه را با سیمای اصلی اسلام آشنا ساخت و اینک از طریق رسانه ها اطلاع یافتیم که روانشاد بعد از یک عمر مبارزه و خدمت به اسلام و مسلمین جهان فانی را وداع گفته به لقاء الله پیوست.

«انا لله و انا الیه راجعون»

ما بنوبت خود خدمات ارزندهٔ استاد را به دیدهٔ قدر نگریسته از خداوند جل جلاله برای شان فردوس برین را استدعا داریم.

واقعاً چنین شخصیتها با مرگ فزیکی نمیمیرند:

سعدیا مرد نکو نام نمیرد هرگز
مرده آن است که نامش به نکویی نبرند

یاد استاد محمد قطب گرامی
و راهش پر رهرو باد

اولس هیرو، مګر چارواکي زیرو

نصرالله

۱۳۹۳ کال د وري په شپاړسمه د ولسمشریزی او ولایتي شورا په ټاکنو کې یو ځل بیا د افغانستان غیرتي اولس خپل شجاعت، اخلاص او له خپلې خاورې او ملت سره د اوچتې مینې ثبوت ورکړ، د دول دول ستونزو او ګواښونو باوجود د رایو صندوقونو ته ورغلل او خپل زعیم د ټاکلو لپاره یې خپلې رأیې واچولې؛ خو له بده مرغه چارواکي یو ځل بیا د تیر په څیر د خپل مسؤولیت په ترسره کولو کې پاتې راغلل، که څه هم د امنیت په ټینګښت کې د امنیتي ځواکونو شاهکاري او قرباني د هیرولو نه دي او هر افغان د دوی دغه اخلاص، فداکاري او جرئت ته نه یوازې دا چې سلام کوي؛ بلکې د راتلونکی په اړه هم ډاډمن دي چې زموږ اردو او امنیتي ځواکونه به د وخت په تېرېدو نور هم غښتلي او ښه شاهکاري ښکاره کوي.

پدې کې هیڅ شک نشته چې د هېواد په استحکام، پرمختګ او ښېرازي کې چارواکي کلیدي رول لري، تر څو پورې چې دهغوی قبله سمه نه وي او اولس ته د هر اړخیز خدمت او پرمختګ له پاره غښتلي بنیادونه جوړ نکړي د اولس هلې ځلې هومره ګټور نشي ثابتیدلای څومره چې پکار دي، له بده مرغه زموږ په افغانستان کې لا تراوسه داسې قیادت او زعامت نه دی پیدا شوی چې ټوله پاملرنه یې د هېواد او اولس لپاره وقف کړی وي؛ بلکې لکه څنګه چې مو لیدلي او تجربه کړی مو ده هر چارواکي خپله ټوله پاملرنه او قابلیت د خپلو شخصي ګټو او اقتدار پاینښت ته یې ځانګړی کړی او ولس یې نه دی پرېښې چې د خپل سرنوشت د ټاکلو لپاره له خپل قانوني حق نه ګټه واخلي، که چیرته ورکول شوی هم دی: نو دهغوی ددغه حق پر وړاندې دومره خنډونه او له مهارت نه ډک د ټګۍ او برګۍ دامونه ایښودل شوي چې ارمانونو ته د رسیدو ټولې لارې یې وړاندې بندې کړي دي چې ددې څرګنده بیلګه د تیرې شنبې په ورځ ټولټاکنې دي، په ظاهره دا خبره کیدله چې په دغو ټولټاکنو کې اولس په ازاده فضا کې له څه فشار، ګواښ او درغلۍ پرته پخپله خوښه د راتلونکو پنځه کلونو لپاره خپل زعیم ټاکي: خو ومو لیدل چې له لومړۍ ورځې نه د اولس د رأیو د حیف او میل کولو لپاره د چارواکو له لورې لوبې روانې وې، سازشونه او راکړې ورکړې کیدلې، د قومونو له مشرانو سره سوداباز‌ي کیدله، رشوتونه او ډالۍ ورته ورکول کیدلې او دېته هڅول کیدل چې د ملي وحدت پرځای قومي او ژبني تعصبونو پر بنسټ رأی ورکړی شي، په دې ناوړه کار کې ان ځینې اردو افسران او والیان هم ککړ کړای شوي وو چې د کوم ځانګړی کاندید له پاره کار وکړي، په داسې حال کې چې دا کار په سلو کې سل د قانون پرخلاف او د هېواد د استحکام پر تاوان و؛ مګر چارواکو ترینه داسې سترګې پټې کړی چې ته به وایې هیڅ نه لیدل، په هر حال هر څه چې وشول هغه ټولو ولید او د تاریخ په پاڼو کې ثبت هم شول، د اولس اخلاص، مینه او جذبه هم نړۍ ته ثابته شوه او د چارواکو غفلت، بې حسي او سازشونه هم، رأی ورکول او د خپلې خوښې زعیم ټاکل د هېوادوالو قانوني او مسلم حق و؛ مګر دویته د رأیو اچولو مرکزونه او محلونه جوړول د چارواکو مسؤولیت، د رأیو اچولو مرکزونو ته ورتګ د هېوادوالو رسالت و؛ خو د شفافیت د خوندي کولو، او لازمو توکو او رأی پاڼو چمتو کولو مسؤولیت د چارواکو پر غاړه و؛ مګر ومو لیدل چې د اولس پر هیلو او ارمانونو یو ځل بیا ملنډې ووهلی شوی د هېواد په څو لویو ولایتونو کې چې هلته د یو نوماند ملاتړي؛ خو رازیات وو په قصدي توګه د رأیو پاڼې دومره لږې ولېږلی شوی چې په زیاترو مراکزو کې د سهار له یوولسو بجو نه مخکې مخکې خلاصې شوی وی، رأی اچوونکو په عاجله توګه د رأیو پاڼې غوښتلې مګر هیچا ورته غوږ نه ګراو، او د لکونو په شمېر رأی اچوونکي له رأی ورکولو پرته خپه او پریشان بېرته خپلو کورو ته ستانه شول، مرکزونو ته د رأی پاڼو نه لېږل او رأی ورکوونکی له خپل قانوني او ملي حق نه محرومول د نه بښلو یو لوی جرم، او د ملت پر حقوقو ښکاره ډاکه ده، دا د ملت له بیت المال سره ستر خیانت او د ملت له سرنوشت سره ښکاره لوبې دي، همدا لامل دی چې ټول ملت د چارواکو په دې کړنه کلکه نیوکه او احتجاج کوي.

چارواکی دی په دې واقعیت پوه شي چې د افغانانو په وړاندې د خپل هېواد استحکام، ملي یووالې او هر اړخیز پرمختګ مهم دی، نه د کوم ځانګړي شخص اقتدار، او دا هله تحقق پیدا کولای شي چې په واقعي معنا د ولس رأیو ته احترام، او عملاً ولسواکي قائمه شي، نه دا چې د تقلب له لارې د اولس د ارادې پرخلاف یوه ځانګړی ډله د اقتدار پر ګدۍ کیده واچوي، څنګه چې افغانستان د افغانانو ګډ کور دی؛ نو د خپل زعیم د ټاکلو حق هم په مطلق ډول افغانانو ته حاصل و، پکار نه و چې دا حق ترینه سلب کړی شوی وای، زموږ چارواکي او ځینې د اقتدار وږي تکي مشران دې دېته متوجه شي چې د افغانستان وګړي د ۲۱ مې پیړی د ساینس حیرانوونکی پرمختګونو په فضا کې ژوند تیروي، د علم او پوهې کچه یې لوړه او خپل حق یې پیژندلې، نه د چا حلقه بګوش غلامان دي او نه هم دچا جامد مقلدین چې هرې خبرې ته یې غاړه کېږدي او ورسره روان شي.

دې لپاره چې اولس خپل اسلامي او ملي حق ترلاسه کړي او د خپلې خوښې مطابق خپل سرنوشت پخپله وټاکي، یا په نني اصطلاح دیموکراسي په افغانستان کې خپلې جرړې مضبوطې کړي: نو د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته پکار دي چې چېرته هم د اولس حق تر پښو لاندې شوی، او د زر او زور له لارې یې صندوقونه ډک کړي له هغوی سره سخت حساب او کتاب وکړي، شفافې او سالمې رأیې جلا، او د تقلب رأیې لغوه اعلان کړي، تر څو په واقعي ډول د افغانستان د مسلمان ولس د خپلې خوښې د زعیم د ټاکلو شرعي او قانوني حق ترسره او افغانستان ته له روانو بدبختیو او ویجاړیو څخه خلاصون ور په برخه کړي. که داسې ونه شي: نو په یقیني ډول وړاندوینه کولای شو چې نه یوازې دا چې د دیکتاتورۍ د ناروا نظام بنسټونه به غښتلی کېږي: بلکې د افغانستان سالمیت او استحکام بنسټونه به هم تر دې کچې کمزوری کېږي چې له مخکې نه په مورچل کې ناست زموږ دښمنان به په ډېره آسانۍ زموږ د وینو پر بیو ترلاسه شوي بریاوې په یو ګوزار پر اوبو لاهو او د غلامۍ په زنځیرونو کې مو کلک وتړي.

ښه به دا وي چې د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون دې په هېواد کې د موجود حساس او نازک حالت ته په پاملرنې سره د شوي درغلۍ ټولې جرړې ختمې، او واک هغه چاته وسپاري چې د ولس اکثریت رأیې یې ترلاسه کړي دي.

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان تیوري ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مسترديږي - پوارې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د افغانستان د شنبې د ورځې په انتخاباتو کې د خلکو پراخ ګډون او په دې برخه کې د خلکو له خوا د طالبانو د ګواښونو په پام کې نه نیول د لسګونو لویدیځو ورځپاڼو د سر موضوعات دي

کارډین:
د ګارډین بریتانوي ورځپاڼه وايي، د طالبانو د بریدونو د ګواښونو او د باراني هوا له کبله د نامسمو شرایطو سربېره؛ افغانان په داسې ګڼ شمېر د رایو په مرکزونو ورغلل چې؛ د ورځې تر نیمایي پورې په ځینو ځایونو کې د رایو پاڼې تمامې شوې.
ورځپاڼه وايي، له دري برخو څخه په زیاتو ولایتونو کې د رای پاڼو د کمي راپورونه ورکړل شوي دي او دا ستونزه دومره پراخه وه چې؛ د انتخاباتو تنظیموونکي ونه توانېدل په وخت ورته ځواب ووایي.

ایرش ټایمز: د ایرش ټایمز ورځپاڼې د یو مقالې سرلیک دی: "د افغانستان انتخاباتو د طالبانو د قوت په اړه پوښتنې راپورته کړې."
ورځپاڼه د خپلې مقالې په پیل کې وايي؛ د افغانستان د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو په انتخاباتو کې د تمې څخه د زیاتو خلکو ګډون او په دې ګواښ کې د طالبانو پاتې راتګ؛ چې ویلي وو، انتخابات به ګډوډ کړي، د حکومت د مخالفو وسله والو د دې توان په اړه پوښتنې راپورته کړې چې؛ ګوندې دا هیواد به د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته بیرته د ګډوډیو په ډګر بدل کړي.
ورځپاڼه د طالبانو هغې ادعا ته اشاره کوي؛ چې وايي، د انتخاباتو په ورځ یې تر زرو زیات بریدونه کړي او په لسګونو کسان یې وژلي؛ خو د افغان امنیتي ځواکونو د چارواکو له خولې وايي چې؛ دا یوه له مبالغې ډکه دعوه ده.
د ایرش ټایمز په وینا، د انتخاباتو په ورځ په ځینو سیمو کې لسګونه چاودنې شوې پر انتخاباتي مرکزونو او پولیسو ډزې شوې؛ خو لیکوال وايي، په مجموعي توګه تاوتریخوالي تر هغې ډېر کم و چې؛ طالبانو یې ګواښ کړی و.

ټایمز: د ټایمز ورځپاڼې ویلي، افغان رای ورکوونکو د طالبانو ګواښونه له پامه وغورځول؛ په دې هیواد کې په لومړي ځل په ډیموکراټه توګه د واک د انتقال لپاره د رای ورکولو مرکزونو ته ورغلل او د افغانستان د ولسمشرۍ انتخابات یې بریالي کړل. ورځپاڼه د چارواکو له خولې وايي، له هغو افغانانو څخه په سلو کې شپیتو په دې انتخاباتو کې برخه اخیستې چې؛ د رایې ورکولو په شرایطو پوره وو.

واشنګټن پوسټ:
د افغانستان د انتخاباتو په اړه د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د یوې مقالې سرلیک دی: "افغان رای ورکوونکو په یوه نسبتاً سوله ییزه ورځ د راتلونکي ولسمشر لپاره رایې ورکړې." لیکنه وايي، دوی په باران کې د پلاستیکونو لاندې ودرېدل؛ دوی د مرګ او جګړې ګواښونه له پامه وغورځول او په دومره ګڼ شمېر کې یې د خپل راتلونکي ولسمشر د ټاکلو لپاره په انتخاباتو کې ګډون وکړ چې؛ تمه یې نه کېده.

اوراق رایدهی در مراکز و...
تا جهت ارائه وضاحت در این خصوص مسوولان کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان را فرا بخوانند.
گزارش های وجود دارند که در روز انتخابات در برخی مراکز رای دهی در کابل و شماری از ولایات پس از گذشت چند ساعت محدود از آغاز پروسه رای دهی، اوراق رای دهی تمام شده است.
کمیسیون شکایات انتخاباتی افغانستان نیز می گوید شکایات زیادی را مبنی بر تمام شدن اوراق در برخی از مراکز دریافت کرده اند.
عبدالستار سعادت رییس این کمیسیون به روز دوشنبه در نشست خبری در کابل با ابراز شک در این خصوص گفت که این مساله را به دقت بررسی خواهند کرد.
مسوولان در کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان نیز پذیرفته اند که در روز انتخابات در شماری از مراکز اوراق رای دهی تمام شد و به انتقال اوراق جدید اقدام گردیده بود.

په ټاکنیزه پروسه کې تقلب ...
د ځینو څارونکو ارزونه، د دولتي چارواکو لاسوهنه او د جوړښت په دوره کې د ځینو نوماندانو له خوا کمپاین هغه شکایتونه وو، چې د ولسمشرۍ د نوماندانو د مرستیالانو له خوا وړاندې شول.
په دې ناسته کې د ډاکټر عبدالله، زلمي رسول، ګل اغا شېرزي او قطب الدین هلال مرستیالانو ګډون کړی و او د ټاکنیزو شکایتونو له کمېسیون څخه یې وغوښتل، څو هغه کسان چې په ټاکنیزه پروسه کې یې لاسوهنه کړې او د یوه ځانګړي نوماند په ګټه یې کار کړی، عدلي او قضايي ارګانونو ته ور وپیژني.
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون رییس عبدالستار سعادت وویل، چې خپله پرېکړه به د ټولو اسنادو په ځانګړي ډول د دغو شکایتونو له څېړلو وروسته د رسنیو، د نوماندانو د استازو او څارونکو په شتون کې اعلان کړي.
نوموړي د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ایا تقلب شوی او که نه؟ وویل چې په ټاکنو کې د تقلب په اړه شکایتونه شوي دي، خو کمېسیون تر اوسه پورې خپلې څېړنې په ځانګړي ډول د دغو اسنادو په برخه کې نه دي کړې.
سعادت زیاته کړه، د خلکو پراخ ګډون ته په پام سره په اوسنیو ټاکنو کې د تېرو په پرتله تقلب احتمالاً کم و او هیله ده، چې د تقلب کچه به هغه اندازه نه وي، چې د ټاکنو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي او که چېرې داسې کوم تقلب شوی وي، نو کمېسیون جدي دی او هغه به وڅېړي. نوموړي د یو شمېر هغو دولتي چارواکو په نه لرې کېدو هم نیوکه وکړه، چې په ټاکنیزو کمپاینونو کې یې ګډون کړی و.
هغه له ولسمشر غوښتنه وکړه، چې خپل تاریخي مسوولیت ته پام وکړي، هېڅ ډول شک پیدا نه کړي، دا د ولسمشر لپاره یو ښه فرصت دی، چې د لومړي ځل لپاره واک په سوله ییز ډول او روڼتیا سره بل کس ته لیږدوي.
دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې د شکایتونو کمېسیون د پکتیا د والي او ویاند او همدارنګه د کندهار د امنیه قوماندان موضوع، چې په ټاکنو کې یې د یوه ځانګړي نوماند په ګټه د کار کولو له امله د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته راجع کړه، څو له ولسمشر څخه په دې برخه کې د اقدام غوښتنه وکړي.
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون کمېشنر عزیز اریافر هم وویل: "موږ ژمنه کوو، چې غیر واقعي رایه هغه که په هره کچه وي، نه شمېرو، زموږ هیله دا ده، چې کمېسیون ته هر ډول شکایت مستند وي."
هغه زیاته کړه، هېچا ته اجازه نه ورکول کېږي؛ چې د تقلب او لاسوهنو په بنسټ ولسمشرۍ ریاست او ولایتي شوراګانو ته لار ومومي.
د شکایتونو کمېسیون د معلوماتو له مخې، تر اوسه له دوو زرو زیات ټیلیفوني او لیکلي شکایتونه د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو نوماندانو او د کمېسیون له کارکوونکو څخه د تقلب او سرغړونو په برخو کې ثبت شوي دي.

کشته شدن ۱۵ نفر در نتیجه ...
"این انفجار زمانی رخ داد که دو موتر حامل غیر نظامیان با ماین کنار جاده برخورد کرد."
او گفت که نیروهای آیساف مسیر شاهراه قندهار – هرات را به دلیل حمله انتحاری که به کاروان نیروهای خارجی صورت گرفته بود مسدود کرده بودند و موترهای غیر نظامیان از راهی که آسفالت نشده بود عبور و مرور می کردند.
او گفت در حین عبور و مرور موتر حامل غیر نظامیان دو موتر با ماین کنار جاده برخورد کرد که در نتیجه پانزده غیر نظامی کشته و سه تن دیگر زخمی شده اند.
سخنگوی والی قندهار می گوید انفجار به حدی بوده که اجساد کسانی که در این انفجار کشته شده اند شناخته نمی شود.

قرارداد امنیتی به وقت معین...
امضا خواهد شد.
اما آقای عثمانی می گوید، در صورتی که این قرارداد امضا نگردد، هر یک از نامزدان ریاست جمهوری به مردم اطمینان داده اند که در صورت برنده شدن شان در انتخابات قرارداد امنیتی را با امریکا امضا خواهند کرد:
"می توانم بگویم که امکانات زیاد موجود است که توافقنامه امنیتی قبل از انتقال قدرت سیاسی با حکومت جدید امضاء شود، اما اگر امضا نشد تمام کاندیدانی که در انتخابات رفتند وعده دادند که ما این قرارداد را امضا می کنیم. جای تشویش و نگرانی نیست."
پیش از این مقامات امریکایی نیز گفته بودند که با وجود خودداری رییس جمهور کرزی از امضای قرارداد امنیتی دو جانبه میان کابل و واشنگتن، رییس جمهور آینده این کشور آن را امضا خواهد کرد.
جان کری وزیر خارجه امریکا گفته است که شش تن از نامزدان ریاست جمهوری آینده افغانستان گفته اند که این قرارداد امنیتی را امضا خواهند کرد.
در همین حال منشی عمومی ناتو نیز هشدار داده است که باقی ماندن برخی از سربازان خارجی پس از سال ۲۰۱۴ در افغانستان به این قرارداد بستگی دارد.
از سوی دیگر شماری از آگاهان امور سیاسی افغان از تلاش های وزیر خارجه افغانستان برای امضای قرارداد امنیتی با امریکا و ایجاد روابط حسنه با این کشور سخن می گویند.
احمد سعیدی یک تن از این کارشناسان در صحبت با رادیو آزادی گفت که احتمال زیاد وجود دارد که این قرارداد قبل از انتقال قدرت سیاسی به رییس جمهور آینده امضا گردد:
"وزیر خارجه افغانستان آقای ضرار احمد عثمانی در این روز ها تلاش می کند تا از آنچه که روابط آقای کرزی با جهان خوب نیست این روابط را حسنه بسازد، در تلاش است کوشش می کند تا آقای کرزی این قرارداد را امضا کند. اگر فرصتی کمی باشد و آقای کرزی امضا نکند من باور دارم که حکومت بعدی که میآید به زودی امضا کند."
امضای قرارداد امنیتی با امریکا پس از آن به تعویق افتاد که رییس جمهور کرزی یک سلسله پیش شرط های حکومت این کشور را برای امضای آن گذاشت.
آغاز عملی و علنی پروسه صلح و مصونیت خانه های مردم افغانستان از پیش شرط های اصلی حکومت افغانستان برای امضای این موافقتنامه می باشد.

بانکي مون افغانانو ته...
د افغانستان په تاریخ کې لومړی وار وي چې په ډیموکراتیکه توګه له یوه ولسمشر څخه بل ته واک لیږدول کیږي.
د ملګرو ملتونو د عمومي منشي بانکي مون، له لوري په خپره شوې بیانیې کې راغلي دي: "په میلونونو ښځو او نارینه و چې خپلې رایې کارولې د هغوی جرات، د خپلو حقوقو د استعمالولو او د دغه هیواد د راتلونکي له پاره د افغانانو ژمنتیا ښيي.» په دې بیانیه کې زیاته شوې ده چې پر ګواښونو او تهدیدونو سربېره، په ټاکنو کې د افغانانو پراخ ګډون ښيي چې په دې هیواد کې «د تاوتریخوالي عاملین نه شي بریالي کیدای."
په افغانستان کې رای ورکولو د شرایطو له ۱۲ میلیونو لرونکو څخه شاوخوا اووه میلیونو کسانو خپلې رای کارولې دي، اوس د رایو د شمېرلو بهیر جریان لري چې څو ورځې وخت به ونیسي. په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان کې د طالبانو د رژیم له رانسکوریدو راهیسې دا دریمې ولسمشریزې ټاکنې دي چې په دغه هیواد کې تر سره کیږي.
بانکي مون په ځانګړې توګه په ټاکنو کې د ښځو، د ټاکنیزو کارکوونکو، څارونکو، کاندیدانو او رایې ورکوونکو ګډون ته اشاره کړې ده.
پر دې سربېره بانکي مون افغان امنیتي ځواکونه هم ستایلي دي چې د خپل هیواد وګړو ته یې دا زمینه برابره کړه څو خپلې رایې وکارولای شي.
د ټاکنو په ورځ د ټول افغانستان په کچه د کومې لویې امنیتي پېښې خبر ور نه کړل شو، خو د یکشنبې په ورځ په کندز ولایت کې د سړک د غاړې د ماین په یوه چاودنه کې یو پولیس او د ټاکنو د کمېسیون دوه تنه کارکوونکي په داسې حال کې ووژل شول چې د رایو صندوقونه یې له خان آباد ولسوالۍ څخه مرکز ته لیږدول.

د انتخاباتو په ورځ رسنیو ...
نوموړي وویل، چې په لوګر، ننګرهار، تخار او کابل کې پنځه خبریالان د امنیتي ځواکونو، د ولایتي شوراګانو د غړو او د انتخاباتي مرکزونو د مسولینو له خوا ګواښل شوي دي.
ښاغلي توحیدي وویل، چې د خبریالانو د تاوتریخوالي پېښې یې له مسوولو ارګانونو سره شریکې کړې.
"یوه بله مساله دا ده، چې د انتخاباتو څخه مخکې او د انتخاباتو په ورځ د یو شمېر خبریالانو پر وړاندې تاوتریخوالي شوی؛ هم په کابل کې او هم په نورو ولایتونو کې خو موږ په دې اړه د کورنیو چارو له وزارت او امنیتي ادارو سره تماسونه درلودل؛ څو دغه پېښې وڅېړي او هغه کس چې تاوتریخوالي کړي باید مجازات شي؛ څو خبریالان او رسنۍ په ډاډه زړه کار وکړي."
له آزادو رسنیو څخه د ملاتړ اداري د معلوماتو له مخې له انتخاباتو څخه مخکې او وروسته له خبریالانو سره د تاوتریخوالي پېښې زیاتې شوې دي.
دا اداره زیاتوي چې، د روان میلادي کال په لومړیو دریو میاشتو کې دوه بهرني او درې افغان خبریالان وژل شوي دي.
له آزادو رسنیو څخه د ملاتړ اداره له راتلونکي حکومت څخه غواړي چې؛ د خبریالانو ژوند ته پام وکړي؛ څو افغان خبریالان په ډاډه زړه کار وکړي.